# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۱ کب ۱۴۰۲ هـ ش | ۱ رمضان المبارک ۱٤٤٥ هـ ق | ۱۱ فبروری ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۵۹)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې لخوا په جوزجان ولايت کې په يو تن قاتل باندې د قصاص الهي حکم تطبيق شو

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذين اصطفی، اما بعد:

قال الله تبارك وتعالى: وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاة يا أولي الألباب لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (البقرة: ۱۷۹)

ژباړه: ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو د دې لپاره چې تاسو تقوا حاصله کړئ.

و ايضاً قال الله تعالى: وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِف فِي الْقَتْلِ ـ إِنَّهُ كَانَ مَنصُورًا (۳۳) الاسراء

او څوک چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی، نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

د جوزجان ولايت په مرکز کې په يو تن قاتل باندې د الله جل جلاله حکم (قصاص) تطبيق کړل شو.

قاتل نظر محمد د امان الله زوی د همراه لمسی د فارياب ولايت، د بلچراغ ولسوالۍ د کوليان کلي اصلي او د جوزجان ولايت د مرکز شبرغان د آی پروژې کلي فعلي اوسېدونکی و، چې مقتول خال محمد د عبدالعلي زوی د منګل لمسی د فارياب ولايت د بلچراغ ولسوالۍ د کوليان کلي اصلي او د جوزجان ولايت د مرکز شبرغان د ال پروژې کلي فعلي اوسېدونکی يې په ۱۴۴۳ هـ ق کال د ۶مې مياشتې په ۱۲ مه نېټه په آله جارحه چاقو سره وژلی و.

ياده موضوع د اسلامي امارت د درې ګونو محاکمو (ابتدائيې، مرافعې او تميز) لخوا په خورا دقيق او مکرر ډول وڅېړل شوه، چې په پايله کې پرې د قصاص حکم صادر او تائيد شو، وروسته دغه پرېکړه د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث هبة الله اخندزاده حفظه الله حضور ته د تائيد لپاره وړاندې کړل شوه. د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله لخوا هم د دغه موضوع په اړه د وروستي احتياط په منظور فوق العاده څېړنه وشوه، چې په نهاي فيصله کې په قاتل باندې د قصاص شرعي حکم د تطبيق امر ورکړل شو او د دغه حکم د تطبيق لپاره د هيواد سترې محکمې ته هدايت و شو، چې دغه د قصاص حکم د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د شعبان المعظم د مياشتې په ۱۵مه نېټه د جوزجان ولايت په مرکز شبرغان ښار ورزشي سټېډيم کې د هيواد والو په يوه مجموعه کې تطبيق شو.

د قصاص د ترسره کېدو په موخه د هيواد د قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په هدايت د سترې محکمې د مرکزي تميز اړوند د جزا ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب په مشرۍ، د جزا ديوان مفتي، مولوي محمد سليم او د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس مولوي عبدالرحيم (راشد) په ملتيا يو پلاوی لېږل شوی و. په دې غونډه کې د جوزجان ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مولوي عبدالغني سعيد، د جوزجان ولايت د ديوان جزا رئيس مولوي عبدالولي، د جوزجان ولايت والي قاري ګل حيدر شفيق، مرستيال والي مولوي نور الدين عمير، د استخباراتو رئيس مولوي خوشحال محمود، د علماوو شورا رئيس شيخ خير الله حقاني او د ګڼ شمېر نورو مسؤولينو په ګډون په زيات تعداد عامو هيوادوالو ګډون کړی و. د غونډې په پای کې په هيواد کې د سرتاسري امنيت د لا ټينګښت، د خلکو شرعي حقوقو ته د لا رسېدا او د اسلامي شريعت د لا ښه تطبيق لپاره دعاء وشوه او غونډه د قاتل په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبيق پای ته ورسېده.

## د فراه ولايت د مرافعه محکمې لخوا ۶۵ زندانيان آزاد شول

په ۱۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي معاونيت د حکم په اساس د فراه ولايت د مرافعه محکمې لخوا (۶۵) په نشه‌يي توکو روږدي بنديان له درملنې وروسته آزاد شول.

د فراه ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مولوي محمد ګل (صياد) او د تحريراتو آمر مولوي شفيع الله (مدثر) د ياد ولايت د مرکزي عمومي محبس څخه د ليدنې پر مهال هغه (۶۵) په نشه‌يي توکو روږدي بنديان چې تر پنځه مياشتو ډېره موده يې په زندان کې تېره کړې وه، د زندان د ډاکټرانو له نظر وروسته چې روغتيايي وضعيت يې ښه او ټيستونه يې مثبت وو، د فراه ولايت د مرافعه محکمې په رسمي غوښتنه او د سترې محکمې د محترم قضائي معاونيت په حکم ازاد کړل.

يادو کسانو ته د دې بد فعل د بيا نه تکرارولو په اړه لازمې سپارښتنې وشوې او له ضمانت اخيستو وروسته ټول آزاد شول.

دغه کسانو له زندان څخه د خلاصول پر مهال ووېل، د زندان دوره موږ ته ډېره ګټوره تمامه شوه، ځکه موږ يې د نشه‌يي توکو له بدبختۍ او نورو ډېرو ستونزو څخه خلاص کړو، موږ ته يې د ټولنې د يوه عادي او سالم وګړي په توګه د ژوند کولو لاره برابره کړه.

يادو ۶۵ کسانو چې د زندان د مسؤولينو له چلند يې بشپړ رضايت درلود، ژمنه وکړه چې په راتلونکي کې به هيڅکله دا ناوړه عمل نه کوي او د عادي او روغو کسانو په صفت به ټولنې ته خدمت کوي.

## د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په دوو مياشتو کې د (۴۷۸۷) نکاح خطونو په ګډون (۶۰۱۴) بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په دوو مياشتو کې له ( ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې (۶۰۱۴) بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزه:**
د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو مياشتو کې (۲۳۳) نکاح خطونه او (۲۰۰) نورې بېلا، بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثيقو د ثبت دويمه حوزه:**
د سندونو او وثيقو د ثبت دويمې حوزې په دوو مياشتو کې (۷۷۳) نکاح خطونه او (۲۰۰) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمه حوزه:**
د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمې حوزې په دوو مياشتو کې (۱۱۸۲) نکاح خطونه او (۲۲۴) نورې بېلا، بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمه حوزه:**
د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو مياشتو کې (۹۳۳) نکاح خطونه او (۲۸۳) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمه حوزه:**
د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو مياشتو کې (۶۶۶) نکاح خطونه او (۱۷۱) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمه حوزه:**
د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو مياشتو کې (۱۰۰۰) نکاح خطونه او (۱۵۹) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

## د کابل د مرافعه محکمې اړوند اختصاصي محکمې د الف او ج ديوانونو ته نوي رئيسان معرفي شول

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په ۱۰ مه او ۱۱مه نېټه دکابل ولايت د مرافعه محکمې اړوند د اختصاصي محکمې د الف ديوان ته محترم مفتي سيد محمود (نعماني) او د يادې محکمې ج ديوان ته محترم مولوي محمد يحيی (ميزان) د رئيسانو په توګه د کابل ښار د ابتدائيه محکمې د څلورو زونونو محترمو رئيسانو لخوا معرفي شول. يادو رئيسانو د پېژندنې او معرفت له غونډې وروسته خپلې دندې په رسمي ډول پيل کړې.

**د مظالمو او الحسبه قضاء:**
**(څلورمه برخه)**

هغه څه چې د الحسبه قضاء پر موجوديت دلالت کوي د سالم بن عبدالله روايت دی چې پلار يې ووېل: د الله تعالی د رسول صلی الله عليه وسلم په زمانه کې مې داسې کسان وليدل چې خواړه يې له وزن او کيل پرته پېرل، د دې په خاطر چې هلته پېرل شوي خواړه په همغه ځای کې ونه پلوري نو خلک وهل کېدل تردې چې هغه يې خپلو تم ځايونو ته انتقالول.

د بازارونو نظارت د محتسب د دندو يوه برخه وه.

وروسته پيغمبر صلی الله عليه وسلم خپل يو شمېر ياران د دغه کار لپاره استخدام کړي، سعيد بن عاص بن اميه يې له فتحې وروسته د مکې بازار مسؤول وټاکه او دا په اسلام کې لومړی محتسب کارکوونکی دی، په همدې ډول عمر بن خطاب (رضی الله تعالی عنه) يې د مدينې د بازار مسؤول وټاکه.

دغه راز د محتسب يوه دنده د جمعې او جماعت لمانځه ته د خلکو هڅول و، د رسول صلی الله عليه وسلم حديث شريف دی چې «دا هوډ مې وکړ چې پر لمانځه امر وکړم، بيا د خلکو کورونو ته لاړ شم هغه کسان چې لمانځه ته نه حاضرېږي کورونه يې وسوځوم.»

په ښارونو کې دغه دنده واليانو ترسره کوله يا به يې د دغه کار لپاره کسان ګومارل، خو د دغه کسانو نومونه په مصادرو کې نه دي ذکر شوي. دې ته په کتو حسبه او احتساب د هر والي د دندو يوه برخه وه.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د قضائي تفتيش عمومي رياست مفتشينو د ننګرهار له محاكمو او مركزي زندان څخه ليدنه وكړه

د سترې محكمې د محترم مقام په هدايت د قضائي پلټنې د عمومي رئيس محترم شيخ الحديث مولوي ګل آغا (عاقب) په مشرۍ يو موظف پلاوي چې مولوي سيف الرحمان (ذاكر)، مولوي عبدالوارث (سعيد) او مولوي رحمن الدين (حقاني) پكې د غړيو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۵ هـ ق كال د رجب المرجب مياشتې په ۱۹مه نېټه د ننګرهار ولايت د محاكمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه ياد ولايت ته سفر وكړ.

ياد پلاوي د سفر او ليدنې په پيل كې د ننګرهار ولايت د مرافعه محكمې له محترم رئيس سره وكتل، وروسته يې د بنديانو ستونزو د څېړلو په موخه د ننګرهار ولايت له مركزي زندان (محبس) څخه ليدنه وكړه، د ياد محبس اړوند د ټولو بنديانو بشپړ شهرت، كيفيت، شكايتونه، ستونزې يې له ځان سره وليكلې او بيا يې د اړونده محاكمو سره شريكې كړې.

د سترې محكمې د عالي مقام لخوا ټاكل شوي پلاوي د خپل كاري پلان له مخې د ياد ولايت د (۲۲) ولسواليو د ابتدائيه محاكمو، ښاري مرافعه محاكمو اړونده دېوانونو، وثايقو آمريت، حقوقو آمريت او نظامي محكمې څخه په جلا ډول ليدنې وكړې.

نوموړي پلاوي د څارنې بهير په ترڅ كې د يادو محاكمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه تر سره كړه، د محاكمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوكي او مسلكي اړخونو معلومات يې واخيستل او د چارو د سمون په برخه كې ورته لازمې لارښوونې وشوې. ياد پلاوي د محاكمو اړوند شته ستونزې، كاري خنډونه او لوژستيكي نيمګړتياوې له ځان سره وليكلې او د ليدنې په وروستيو كې يې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نيمګړتياوو د اكمال په اړه د ننګرهار ولايت د مرافعه محكمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته وكړه او ځينې ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريكې كړې.

د ياد سفر په دوام ياد پلاوي د محترم والي او د ځينو ولسواليو له مسؤولينو سره ناستې وكړې، د محاكمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړوندو ستونزو د حل په اړه د هغوى نظرونه هم واورېدل، ياد پلاوي د ننګرهار ولايت دمحاكمو د قضاتو، مفتيانو او محررانو څخه د شرعي علومو او حنفي فقهې برخه كې ظرفيتي ازموينه هم واخيستله.

ياد پلاوي د محاكمو په وړاندې شته ستونزې او د خلكو شكايتونو په دقيق او هر اړخيزه توګه وڅېړل.

د قضائي تفتيش د څارنې او پلټنې پلاوي ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۵ هـ ق كال د شعبان المعظم مياشتې په (۹) نېټه پای ته ورسېده.

## د ميدان وردګ ولايت د محاكمو په حكم (۱۰) متهمينو ته تعزيري سزا وركړل شوه

د ميدان وردګ ولايت د چک ولسوالۍ د ابتدائيه محكمې (۹) متهمينو او د ياد ولايت ښاري محكمې لخوا يو تن متهم ته تعزيري سزا وركړل شوه.

د چهارشنبې د ۱۴۴۵هـ ق كال د شعبان المعظم د مياشتې ۲۴مه نېټه د ميدان وردګ ولايت د مرافعه محكمې لخوا لسو (۱۰) تنو متهمينو ته په عام محضر كې د زنا، لواطت او بد اخلاقۍ په تور تعزيري سزا وركړل شوه.

يادو متهمينو چې دوه ښځې او اته نارينه وو، د خپل بند موده يې مخكې تېره كړې وه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه كې د ميدان وردګ ولايت د مرافعه محكمې رئيس محترم مولوي عبدالكريم (حقاني)، د ولايت مقام د دفتر رئيس مفتي محمد ظابط (حارث)، د ياد ولايت د علماوو شورا رئيس محترم شيخ سيد محمد عابد (آغا)، د اطلاعات او كلتور رئيس مولوي حبيب الله مجاهد (اخندزاده)، د چک ولسوالۍ د ابتدائيه محكمې رئيس مولوي عبدالصمد (فياض)، د ياد ولايت منسوبينو او عامو هېوادوالو ګډون كړی وو.

يادې غونډې ته د ميدان وردګ ولايت د مرافعه محكمې رئيس مولوي عبدالكريم حقاني صاحب په وينا كې وويل، چې حدود او قصاص د الله تعالى د رحمت ذريعه ده، چې په تنفيذ سره يې امن او خوشالي رامنځته كېږي. محترم حقاني زياته كړه، د حدودو او تعزيراتو په تطبيق سره د پېښو ګراف را ښكته كېږي او جنايي جرمونه ختمېږي، څوک بيا زړه نه ښه كوي چې جرم وكړي او اسلامي امارت د حدودو او تعزيراتو ترسره كېدو ته ژمن دی.

د چک ولسوالۍ د ابتدائيه او ښاري محاكمو يادې پرېكړې د ميدان وردګ ولايت د مرافعه محكمې او د مركزي تميز د جزا دېوان له تائيد وروسته د شعبان المعظم د مياشتې ۲۴مه نېټه پر متهمينو تطبيق شوې.

## بالای دو متهم در ولایت سرپل حکم جزای تعزیری تطبیق شد

روز پنجشنبه مؤرخ ۱۱ /۸/ ۱۴۴۵ هـ ق به اساس هدایت رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت سرپل بالای (۲) تن از متهمین قضایای بد اخلاقی حکم جزای تعزیری تطبیق شد .

دوسیه‌های متهمین ذکر شده در محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری آن ولایت قطعی و مدت حبس شان تکمیل گردیده بود.

در گردهمایی که به همین منظور دایر گردیده بود، رئیس محکمهٔ مرافعه، تعداد کثیری از مراجعین و اقارب محکومین حضور داشتند.

در ادامه این جلسه قضایای محکومین به خوانش گرفته شد؛ سپس بالای (۲) تن از طبقه ذکورکه یکی از آنها به مدت (۶) ماه حبس تنفیذی و (۲۹) دره و دیگر بر (۳) ماه حبس تنفیذی و (۱۵) دره محکوم بودند، حکم جزای تعزیری تطبیق گردید.

## د کابل ښار د ابتدائيه محکمې څلورم زون د جزا دېوان لخوا يو متهم ته تعزيري سزا وركړل شوه

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په ۲۳مه نېټه د کابل ښار د ابتدائيه محکمې څلورم زون د جزا دېوان لخوا يو كس ته چې پر غلا متهم و، ۳۹درې تعزيري سزا وركړل شوه.

د کابل ښار د ابتدائيه محکمې څلورم زون د جزا دېوان پر ياد متهم د پنځه كاله تنفيذي بند او ۳۹ درو پرېكړه كړې وه، چې ياده پرېكړه د سترې محكمې د عالي مقام له تائيد وروسته پر متهم تطبيق شوه.

## بالای دو تن از متهمین در ولایت بلخ حکم جزای تعزیری تطبیق شد

روز یکشنبه مؤرخ ۱۴/شعبان المعظم/۱۴۴۵ هـ ق به اساس حکم محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی بلخ، دیوان جزاء محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ و تائیدی دیوان عمومی جزاء مقام عالی ستره محکمه به شمول یک زن به دو تن از متهمین قضیهٔ بد اخلاقی در مقر ریاست عمومی مرافعهٔ آن ولایت جزای تعزیری داده شد.

دوسیهٔ متهمین ذکر شده از سوی محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی بلخ و دیوان جزای محکمهٔ مرافعهٔ بلخ به شکل بسیار دقیق و همه جانبه بررسی شده بود؛ محاکم ثلاثه متهمین مذکور را علاوه بر دو سال حبس تنفیذی محکوم بر ضرب ۳۵_۳۵ دُرهٔ شرعی نموده بودند.

در گردهمائی که بمنظور تطبیق حکم جزای تعزیری بالای متهمان مذکور روز یکشنبه در صحن تعمیر ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ راه اندازی شده بود منسوبین قضائی، اداری و خدماتی ریاست محکمهٔ مرافعه،آمریت حقوق، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و نمایندگان ریاست‌های محترم شورای علماء، امربالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات، نظارت و تعقیب فرامین و احکام، استخبارات، زندان ولایت بلخ، قوماندانی امنیه، مراجعین محکمه و تعداد کثیری از مردم شریف و متدین ولایت بلخ حضور داشتند.

ابتداء چند آیات از قرآن عظیم الشان توسط محترم مولوی عبدالسلام «مظهری» رئیس دیوان امنیت عامهٔ مرافعه قرائت شد؛ بعداً محترم شیخ فریدالدین «حقانی» رئیس دیوان جزا و سرپرست ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ طی سخنرانی به حاضرین گردهمائی گفت: الحمدلله به فضل و رحمت خداوند «جل جلاله» بنابر جهاد مقدس و شجاعت مجاهدین امارت اسلامی افغانستان و دادن هزاران شهید در راه اعلای کلمة الله نظام امارت اسلامی افغانستان ایجاد و احکام شریعت کاملاً در تمام کشور تطبیق میگردد، با تطبیق احکام شریعت امنیت سرتاسری درکشور و جامعه ما حکمفرما گردیده که همه ثمره جهاد بر حق مجاهدین امارت اسلامی افغانستان میباشد.

موصوف افزود در اداره فاسد قبلی، ملت افغانستان امنیت کامل نداشته و شریعت اسلام بطور کامل تطبیق نمیگردید؛ ظالمان و فاسدان بالای ملت مسلمان و مؤمن افغانستان حکمرانی می نمودند و حتا در محل زندگی خود امن نبودند؛ زیرا تطبیق احکام الله و سنت نبوی مورد تطبیق قرار نمیگرفت.

محترم شیخ فریدالدین (حقانی) گفت، رسول الله «صلی الله علیه» فرمودند شخصی که در جامعه خلاف احکام شریعت عمل می‌نماید وظیفهٔ هرمؤمن و مسلمان است تا موصوف را از اعمال نا شایسته و خلاف شریعت با دست خود بازدارد و اگر توان آن را نداشت با زبان خود از عمل بد مذکور جلوگیری نماید و اگر با آنهم با اعمالش ادامه داد به دل خود شخص فاسق را بد ببیند.

امروز با حضور شما مسلمین حکم جزای تعزیری را بالای دو نفر متهمان فعل روابط نامشروع فرار از منزل و خلوت اجنبی که بعد از فیصلهٔ شرعی محاکم ثلاثه امارت اسلامی افغانستان قطعیت حاصل نموده تطبیق می‌نمایم تا حکم الله «جل جلاله» بالای شان جاری گردیده موجب زجر خود شان و عبرت به دیگران شود، با تطبیق احکام شریعت اسلام جامعه از بد اخلاقی و فسق پاک گردیده و رضا و رحمت خداوند»جل جلاله» بر بندگان مهیا میشود.

متعاقباً نص حکم دیوان جزای مرافعه توسط محترم مفتی ابوالاسرار احمد (نصرت) مفتی دیوان جزا مرافعه به حاضرین قرائت شد و حکم جزای تعزیری بالای متهمین ذکر شده تطبیق شد.

در اخیر گردهمای نمایندهٔ محترم ریاست امربالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات طی صحبت تطبیق احکام شریعت را توسط محاکم و سایر ادارات امارت اسلامی افغانستان و مردم مسلمان و دین پرور یک امر و مکلفیت شرعی و اصولی دانسته، اجرای آن سبب رحمت الله و پاکی جامعه از افراد و اشخاص فاسق و بد کار می‌گردد و گردهمای با قرائت دعائیه توسط موصوف خاتمه یافت.

## د قضائيه قوې د محاكمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست يوه څلوركسيز پلاوي د څلورم او پنځم زونونو د ملكي او نظامي محاكمو له قطعاتو ليدنه او څارنه وكړه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق كال د شعبان المعظم د مياشتې له ۱۲ مې نېټې څخه تر ۲۰ مې نېټې پورې د قضائيه قوې د محاكمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست اړوند د تفتيش او كنټرول مديريت څلوركسيز پلاوي د تفتيش او كنټرول عمومي مدير مفتي عبدالرؤف عمري په مشرۍ د ياد رياست د تفتيش او كنټرول مديريت پلاوي په دغه ليدنه كې د څلورم زون غزني، باميان، ميدان وردګ، دايكندي او د پنځم زون كندهار، زابل، ارزګان او هلمند د ملكي محاكمو له امنيتي قطعاتو او د نظامي محاكمو له امنيتي او اجرائيوي قطعاتو، د مجاهدينو له تعيناتو، صادرې، واردې او رسيداتو له كتابونو، د حاضرۍ له كتاب، له مراجعينو سره د مجاهدينو او مسؤلينو چلند، د تالاشۍ له بهير، امنيتي كمربندونو ، ټاورونو، او نورو اړوند مواردو څخه ليدنه او څارنه وكړه.

دغه راز ياد پلاوي مجاهدينو ته د صورت او سيرت د اصلاح، پر نبوي سنتو د ځان برابرولو، په جماعت سره د لمانځه اداكولو او خپلو دندو ته د پاملرنې برخه كې د لازمو لارښوونو او سپارښتنو تر څنګ مجاهدين د امنيتي چارو د لاښه سمبال، له مراجعينو سره نېک چلند او نبوي اخلاقو لرلو ته وهڅول او په دغه اړوند ورته لنډ مهاله سيمينارونه وركړل شول.

د يادونې وړ ده چې د ياد پلاوي او د محاكمو د رئيسانو ترمنځ د همغږۍ، اتفاق او همكاريو د لا ټينګښت لپاره اړينې ناستې ترسره شوې.

## محاکم بادغیس طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۵۲۳) دوسیه، به تعداد (۲۲۲) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۸/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۷/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۵۹) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۵۷) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۲۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم کاپیسا طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۹۶) دوسیه، به تعداد (۱۰۱) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۲۵/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۰/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۱۰۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۷۵) دوسیه، به تعداد (۶۴) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۴) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده،(۳۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۰) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر، (۲۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۶۴) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۳۵) دوسیه، به تعداد (۱۷۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۷۰) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## د ننگرهار محاکمو په یوه میاشت کې د (۵۸۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۳۶۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننگرهار ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۸/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې څخه تر ۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې د (۵۸۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۳۶۳) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقی برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۴۵۷) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۳) دوسیې مکتوبي اجرا شوې، د (۱۲۰) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۸) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۱۶) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۶) دوسیې مکتوبي اجرا شوې، د (۱۵۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننگرهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۶۳) تجارتي دوسیې واردې شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۹) دوسیې مکتوبي اجرا شوې، د (۳۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۸) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننگرهار محاکمو په یوه میاشت کې (۳۶۳) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۴۴۰) دوسیه، به تعداد (۲۸۵) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، تجارتی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۷۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۲۸۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۲۱) دوسیه، به تعداد (۶۵) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمه مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ۶/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۶) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۹) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۲) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۶۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د هلمند محاکمو په یوه میاشت کې د (۵۷۲) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۵۸۰) وثیقې هم اجراکړې دي

د هلمند ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱۰ /۷ /۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۱۰/ ۸ / ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۵۷۲) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۵۸۰) وثیقې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۰۹) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۰۴) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۸۴) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۵۷) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۹۰) دوسیې فیصله شوې، (۲۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۵۵) دوسیو په تړاو قضائي قراروونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۸۰) بېلا بېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

## د متحدالمآل ګڼه: ۳۶
## نېټه: ۱۱ /۸/ ۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

وبعد: د عدلیې وزارت محترم مقام خپل پیشنهاد نمبر (۴۲) مؤرخ ۱۴۴۵/۷/۸هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۱۰/۳۰هـ ش د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې کړی و او د جریان په ذکر کولو سره یې هیله کړې وه تر څو د عدلیې وزارت محترم سرپرست او د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون محترم رئیس ته صلاحیت تفویض شي څو د امارت د قضایاوو عمومي رئیس، د کابل ولایت د امارت د قضایاوو رئیس د ولایتونو د عدلیې رئیسان او د علماوو د پنځه دیرش کسیزې کمېټې غړي، د عدلیې وزارت د سرپرست او د کمېسیون د رئیس له خوا اختصاصي محکمې ته راجع کېدونکې د کمېسیون په موضوعاتو کې او نورو محاکمو ته راجع کېدونکې د امارت د قضایاوو د ادارو په موضوعاتو کې د وکیل په توګه تعیین شي او همدارنګه دوی ته د وکیل بالتوکیل صلاحیت هم تفویض شي.

په یاد پیشنهاد کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله تعالی د دفتر د ۱۴۴۵/۷/۱۲ هـ ق نېټې (۳۵۰۳) ګڼه حکم په لاندې متن د عدلیې وزارت ته صادر شوی دی:

وکتل شو!

وعلیکم السلام ورحمة الله و برکاته!

وبعد: (د پیشنهاد د متن غوښتنه منظور ده.)

د پورته تحریر شوي حکم یوه کاپي د عدلیې وزارت لخوا سترې محکمې ته را استول شوې او یادونه یې کړې چې: د یاد حکم له تفویض شوي صلاحیت څخه په استفادې سره د امارت د قضایاوو عمومي رئیس،د کابل ولایت د امارت د قضایاوو رئیس او د ولایتونو د عدلیې رئیسان، اختصاصي محکمې ته راجع کېدونکې د کمېسیون په موضوعاتو کې او نورو محاکمو ته راجع کېدونکې د امارت د قضایاوو د ادارو په موضوعاتو کې د عدلیې وزارت د سرپرست او د ځمکو د غصب څخه د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون د رئیس له خوا پورته ذکر شوي مسؤولین د وکیل په توګه تعیین دي او همدارنګه دوی ته د وکیل بالتوکیل صلاحیت هم تفویض شوی، هیله ده په دې هکله څرنګه چې مناسب وینئ اړونده محاکمو ته به لازم هدایت اعطاء کړئ.

بناءً د سترې محکمې د محترم عالي مقام د هدایت په اساس یاد حکم ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي کړنې ترسره شي.

## د متحدالمآل ګڼه: ۳۷
## نېټه: ۱۳ /۸/ ۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

وبعد: د اسلامي امارت د مجاهدینو سره د موجودو دوربینونو او وسلو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله تعالی حکم نمبر (۳۰۸۳) مؤرخ ۱۴۴۵/۶/۲۰هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۱۰/۱۳هـ ش چې په لس (۱۰) مادو مشتمل دی، سلسلتاً د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست ته رارسېدلی چې متن یې په لاندې ډول دی:

**لومړی ماده:**

(۱) د اسلامي امارت مجاهدین مکلف دي، چې د ځان سره موجود دوربینونه ثبت کړي.

(۲) دلګۍ مشران مکلف دي، له اړوندو مجاهدینو سره د موجودو دوربینونو دقیقه شمېره د ولایت او ولسوالۍ په تفکیک سره معلوم، په لېست کې درج او ثبت کړي، که څه هم د هغوی اړوند مجاهدین په وزارتونو ، امارتي ادارو یا نورو ولایتونو کې توظیف شوي وي.

(۳) که چېرې د اسلامي امارت مجاهد چې د هغه سره دوربین موجود وي ، د دې حکم له صدور څخه وروسته تر درو میاشتو پورې اړوند دوربین ثبت نه کړي، د کشف په صورت کې دې دوربین ضبط او د دې حکم په درېیمه ماده کې درج شوي هیئت ته وسپارل شي.

**دوه یمه ماده:**

د همېږغۍ او د دوربینونو د دقیق شمېر د تثبیت او ثبت پر بهیر باندې د څارنې په منظور دې، په لاندې ترکیب سره مرکزي هیئت رامنځته شي:

۱ ـ د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله تعالی دفتر د بیت المال د تثبیت ، ثبت او مراقبت رئیس د هیئت د رئیس په توګه:

۲ ــ د ملي د فاغ وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۳ــ دکورنیوچارو وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۴ــ د استخباراتو د عمومي ریاست واکمن استازی د غړي په توګه.

**درېیمه ماده :**

د دوربینونو په دقیق تثبیت او ثبت پورې د اړندو چارو د تنظیم په منظور دې، په هر ولایت کې په لاندې ترکیب سره هیئت رامنځته شي:

۱ ـ د اړوند ولایت د استخباراتو رئیس د هیئت درئیس په توګه.

۲ ـ په ولایت کې د ملي د فاع وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۳ ـ د اړوند ولایت امنیه قوماندان دغړي په توګه.

**څلورمه ماده :**

(۱) دلګۍ مشران مکلف دي ، چې د اړوند مجاهدینو سره د موجودو دوربینونو لېست توحید او اړوند ولایت ولایتي هیئت ته وړاندې کړي.

(۲) ولایتي هیئتونه مکلف دي، چې په اړوند ولایت کې د موجودو دوربینونو لېست توحید او مرکزي هیئت ته وړاندې کړي.

(۳) مرکزي هیئت مکلف دی، چې د افغانستان په سطحه د موجودو دوربینونو لېست توحید او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله تعالی عالي مقام ته وړاندې کړي.

**پنځمه ماده:**

مرکزي هیئت مکلف دی، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله تعالی عالی مقام له استیذان څخه وروسته د مجاهدینو سره موجود دوربینونه هغوی ته د مناسبې بیعې د ورکړې په بدل کې، راټول او په مرکزي وسلتون کې ځای پر ځای کړي.

**شپږمه ماده:**

(۱) د اسلامي امارت مسؤولین او مجاهدین مکلف دي، چې له ځان سره موجودې وسلې ثبت کړي.

(۲) د اسلامي امارت مسؤولین او مجاهدین مکلف دي، چې د خپلې اړتیا څخه زیاتې وسلې د دې حکم په درېیمه ماده کې درج شوي هیئت ته وسپاري.

(۳) که چېرې د اسلامي امارت مسؤولین یا مجاهد د دې مادې له حکم څخه سرغړونه وکړي، د کشف په صورت کې دې، وسله ضبط او د دې حکم په درېیمه ماده کې درج شوی هیئت ته وسپارل شي.

**اوومه ماده:**

(۱) د دوربین او وسلې خرڅول، رانیول او سوداګري منعه دي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه د سرغړونې په صورت کې، مرتکب دې ونیول شي او محکمې ته دې وروپېژندل شي.

**اتمه ماده:**

مرکزي هیئت مکلف دی، چې د دې حکم له صدور څخه وروسته تر لسو ورځو پورې، د هغه د ښه تطبیق په منظور، کړنلاره ترتیب او ولایتي هیئتونو ته په واک کې ورکړي.

**نهمه ماده:**

(۱) د اسلامي امارت نور اتباع مکلف دي، د دې حکم له صدور څخه وروسته تر درو میاشتو پورې، خپل موجو د غیر قانوني دوربینونه او وسلې د دې حکم په درېیمه ماده کې درج شوي هیئت ته وسپاري.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې له تېرېدو سره سره غیر قانوني دوربین یا وسله ، له نورو اشخاصو سره کشف شي، کشف شوی دوربین او وسله دې ضبط شي.

**لسمه ماده:**

دغه حکم د صدرو له نېټې څخه نافذ دی.

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحریر شوی حکم د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت په اساس ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي کړنې ترسره شي.